
ليکوال: د. ا. محمد حق نيکزاد نېټه ۱۲-۰٤-۲۰۱۱

# د مفتو پيسو سرچينې يا د هيواد د برباديو عوامل!

کله چې يوڅوک د داسې حالت سره مخامخ سي چې نه يې لاس په تپاکې سويوی، نه يې پښی پسې چاودلی وی او نه يې د تندی خولې پسې توی سوی وي او د يوه ګړی په موده کی او هغه هم د سترګو په رپ کی په لکونو افغانۍ (ډالرونه) په جيب کې ور ولوېږي. دا به څومره خوندورحالت وی. دا حالت خو خوندور دی اما پايلې يې ډيرې بيخونده دي. د دا ډول پيسو پيدا کول ډير نور ناوړه هدفونه لري (حق به ناحقه کيږي، قانون به تر پښو لاندې کيږي او...)،هيڅوک وبل چاته مفتې پيسې نه ورکوي او نه داسې څوک پيداکيږي چې د ځان څخه حاتم جوړکړي.هر څوک چې بل چاته پسې ورکوي، هرومرو ځانته خپل تاکلی هدف لري.
البته په دې کارکی بل لاس هم سته چی هغه ته منځګړی لاس وايي. د منځګړي رول هم ډير اهميت لری چې د وو نفرو تر منځ د کتليست وظيفه پر غاړه لری. خو دی هغه وخت و دې کارته اوړه ورکوي چې برخه بې درنه وي.
البته څوک چې پيسې ورکوي هغه هم خپل هدف لري او د هغه هدف به د دغو پيسو څو واره زيات ارزښت ولری ، دنومورې مقصد به داوي چې د دی پيسو په مقابل کی د داسې کاروبار او يا د پروژی قرارداد ترلاسه کول وی چی ارزښت به يې د ده د ورکړه سوو پيسو څوځلې زيات وي.
کله چې اوس خپل ماحول ته ګورو، دا کارونه خو په ښه درب سره روان دي. خو سوال دلته دی چې د دې ډول کارونو پايلې به څه وی؟ تر لمر روښانه خبره داده چې د دې کارونو پايلې دومره خرابی دي چې تصور يې هم نسي کيدلای هم دا علت دی چې زموږ ګران هيواد يې د څو لسيزو په اوږدوکی د بربادۍ سره مخامخ کړيدی. دا د مفتو پيسو يوه سرچينه ده چې د اداری فساد لويه برخه تشکيلوي. دا کارونه هغه کسان تر سره کوي چې د وطن د ابادولو سره هيڅ علاقه او مينه نه لري همدا خبره دلته صدق کوی چې د وطن د ابادۍ معيار د هغه د ګړو مينه د وطن سره ده.
د مفتو پيسو بله سرچينه داده چې د پروژو د قراردادونو خرڅول يوپر بل باندې دي. د کوم وخت څخه چې داکار رواج موندلی دی تردې دمه په ميلياردونو ډالرونه د وطن د ابادولو په نامه ولګيدل، خود کار د ټيټ کفيت په خاطر اقتصادی ارزښت يې ډير ټيټ دی .په دې کارکې مرستندويه ادارې زيات رول لري.




د پيسو نوري مفتی سرچينې هم سته خو، دغه دوې پورته ذکر سوي سرچينې په دې خاطر ډير اهميت لري چې د يوه هيواد مخ ته تلل يا وروسته پاته کيدل په همدغو پورتنيو سرچينو پوري اړه لري او علت يې دادی چې پيسې د هغه هدف د پاره نه لګولې کيږي وکوم ته چې دغه پيسې بيلې سويوي. دلته دوه عمده مشکلات منځ ته راځي اوهغه داچې:
- وهدف ته د رسيدو امکان له منځه ځي
- او بل داچې کار بې کيفيته سرته رسيږي
د دی ذکر سوی کار نتيجه څه ده؟ نتيجه يې په اخرين تحليل کی د هيواد وروسته پاته کيدل او د خلکو د ژوند بربادي ده. د ګوتو په شمير به د يو څو نفرو ژوند ښه سي، خو عام ولس او هيواد د بربادۍ سره لاس او ګريوان کيږي چې همدا اوس دغه غملړلی پروسه د سر په سترګو وينو. هغه کسان چې په دی پروسه کی اغوشته دي، دوې د يوی شپږی د پاره پوستين سوځوي، ايا کيدای سي چې ودې غميزوته د پای ټکی کښيښول سي؟ بالکل کيدای سي او هغه په دې ترتيب چې:
- کار و اهل کار ته وسپارل سي


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

- او د رشوت د ورکولو، اخیستلو په وړاندي بي امانه مبارزه پیل سي
- د هغومفت خورو کسانو لاسونه لنډ کړای سي چي رشوت ورکولو او رشوت اخیستلو ته لمن وهي
– هم دهغو کسانو لاسونه لنډ کړای سی چي د دوی تر منځ فعالیت کوي.
په اخرین تحلیل کی په کار داده چي:
- د پروژې د تکمیلولو ترون د هغو کسانو سره صورت ونیسي چي د کار داجراء کولو مالي، تخنیکی توان ولري او ماهر کارګران ولري او دې کار ته اړتیا ونه لري چي خپل قرارداد پر بل باندي خرڅ کړي
- د پروژي په تطبیقولو کی باید د پروژي د تکمیلیدو ټولی مرحلي په سستما تیک ډول(تحلیل، تطبیق او د کار ارزونه) په نظر کی ونیولی سی.
- دا کار د داسي کسانو د خوا صورت ونیسي چي د دغو کارونو د سرته رسولو علمي پوهه او مهارت ولري.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ